**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** www.unama-afg.org

## افغانی ښځی او پخوانيِ جنګیالیان د سولی او سوکالی لپاره ننوالی ته مخ اړوي

هرات، ۲۰۰۸ کال د اپریل د میاشتی ۲۸ نیټه – د ښوالی او د سواد د زده کړی مبتکرانه پروګرام چې د ملګرو ملتونو له خوا وړاندي شوي، افغانی ښځو او پخوانیو جنګیالیانو ته د سواد زده کړي د نوي پیل درسونه په واسطه دا موقع په لاس ورکوي چې د خپلو بزغلیو جوړلو له لاري عایدات تر لاسه کړي.

د شین افغانستان نوښت پروژه د ملګرو ملتونو د شپږو نمایندګیو له خوا د نړیوال خوراکی پروګرام په مشرتابه پر مخ بیول کیږی او مخه یې دا ده چې هغه چاپیریالی زیان د کورنیو د بزغلیو له لاری له منځه یوسی کوم چې د لسیزو د جګړي د نا کنترول شوي ځربښت او ناقانونه لرګو وهلو له امله منځته راغلی.

د ۲۰۰۵ کال راهیسی د شین افغانستان نوښت، تر ۵۰۰ زیات قوریی یا بزغلی د افغانی ښځو او پخوانیو جنګیالیانو له خوا په ټول هیواد کې پر مخ بیول کیږي. د دغه کال تر پایه پوري به تر ۵ ملیونه زیات نیالګی شنه شوي وي او تر یو ملیونه زیاتی ونی به ایښودل شوی وي چې د افغانستان د طبیعی چاپیریال په بیا رغونه کی به مرسته وکړي او کورنیو ته به یو موقع په لاس ورکړي چې عاید تر لاسه کړي او په عین وخت کې به په زرګونه افغانی ښځو او پخوانی جنګیالیانو ته د سواد د زده کړي د روزنی موقع په لاس ورشی.

**د شین افغانستان د نوښت د پروژی همغږه کوونکی ښاغلی غفوري چې د هرات له مرکز څخه یې لیدنه کوله وویل:**

"دغه قوریې د عادی افغان وګړو په ژوندون کې او همدارنګه زمونږ په چاپیریال کې یو ستر بدلون رامنځته کوي.
موږ غواړو چې هغه زیان شاته ووهو کوم چې د ځنګلونو پریکولو زموږ کلیوالی ټولنو او د کروندګرو معیشتونو ته اړولی دي. دغه قوریې د هغو چا لپاره منظمه کارونه برابروي چې جګړي ته یې شا کړیده او هغو میرنو لپاره چې هغوي اوس د خپلو کورنیو د ساتنی لپاره عاید تر لاسه کوي او په عین وخت کې د سواد زده کړي له ټولګیو څخه ګټه اخلی."

افغانستان یو وچ هیواد دي چې د په دښته بیدلیدلو د خطر سره مخامخ دي. محدود ورښت، د کلونو نا سم مدیریت او د طبیعی زیرمو نا سم کارول او دغو وروستیو وچکالیو او سیلابونو په ګډه دغه ستونزه په ټول هیواد کې له پسی بدتره کړیده. له ځنګلونه او په خاصه ډول له ځړ ځایونه څخه، د هغو د بیا نوي کولو له کچې

ځخه په زیاته اندازه کار اخیستل کیږي. په داسی حال کې چې د په دښته بدلیدلو پروسه په مخ روانه ده، نفوس په یوه چټکه اندازه مخ په زیاتیدو دي.

د شین افغانستان نوښت به د چاپیریال د بیارغونی هڅی پر مخ بوځی په داسی حال کې چې د ځنګلونو د زیاتې پراختیا لپاره به ټینګ بنسټونه کیږي. د ځنګلونو د بیا رغونی ولایتی مرکزونه چې منځته به راشی د زراعتی پوهی د مرکزونو او د لوړ ثمر لرونکو د بزغلیو فعالیتونه به سره یو ځاي کړي. دغه مرکزونه همدارنګه دا هدف لري چې عامه خبرتیا زیاته او په ټول هیواد کې د ځنګلونو د زیاتولو پروګرامونه تاسیس کړي.

د ایډیټورانو لپاره یادښتونه:

رسنی باید د زیات معلومات د لاسته راوړلو په خاطر په هرات کې د خوراکی نړیوال پروګرام له افسر شرین محمد نوری او یا د یوناما د رسنیو د مسولی نیلاب مبارز سره (دری، پشتو او انګیریزی) په دغه شمیرو اړیکه ونیسی.

۰۷۹۶۰۵۶۹۲۷
۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳